

# د میزونو د سر د انجنیري شویو تیږو د صنعت په برخه کې د سیلیکوسېس ادعاګانې

د کارکوونکو أجره یو مالي مزد دی چې هغو کارکوونکو ته ورکول کیږي چې د خپل کار په جریان کې زخمي شوي یا ناروغ شوي دي، په دې کې ښایي د معاش د کمښدو، د دایمي معلولیت، روغتیایي لګښتونه او د کاري ساحې د احیاء لپاره مزد شامل وي ترڅو هغوی وکولی شي بېرته خپل کار ته ستانه شي.

په استرالیا او بهر کې څېړنو موندلې ده چې د میزونو د سر د ډبرو د کار په صنعت کې ممکن کارکوونکي د تنفسي کرېسټالین سیلیکا له خطر سره مخ شي چې دا د هغوی روغتیا لپاره د خطر وړ دي. کارکوونکي ممکن د میزونو د سر د وچو ډبرو د پرې کولو، رېګ کاري کولو او پالش کولو، او د نصبولو په وخت کې د سیلیکا د ګرد له خطر سره مخ شي.

سېلیکوسېس چې د نیوموکانیوسېس یو فرعي ډول دی، د سږیو یو ډول ناروغي ده چې د کرېسټالي سیلیکا د ګرد د تنفس کولو له امله رامنځته کیږي او په دې ګرد کې کوچنۍ ذرې شاملې وي چې د سږیو ژورو برخو ته رسیږي.

د مزد د ترلاسه کولو لپاره، په شمول د مجموعي تادیې، طبي او روغتیایي لګښتونه، او چېرې تړاو ولري، د عاید د مزد تادیې، یو کارکوونکی خپلواک روغتیایي پلاوي (DDMP) ته اړتیا لري ترڅو د مختلفو پوښتنو لپاره نهایي او حاکم تصمیم ونیسي. په دې کې د کار اړوند د سیلیکوسېس تشخیص، د کارکوونکي د کاري وړتیا د کمښدنې کچه او د هغوی د ستونزو کچه.

په دې حقیقت پاڼه کې دا موارد شامل دي:

- د سیلیکوسېس د احتمالي یا تأیید شوې ناروغۍ لپاره د کارکوونکو له خوا د جبراني مزد د درخواست پروسه
- د بیمې د چمتو کوونکو مسؤلیت ترڅو مخکې د DDMP له پرېکړې څخه د تنفسي متخصص د اړین راپور، د لوړ کیفیت سي ټي سکن او د سږیو د بشپړ فعالیت راپور چمتو کړي

## د سیلیکوسېس تشخیص

ځینې هغه کسان چې له پخوا د سیلیکوسېس ناروغي لري علایم نه ښکاره کوي. که چېرې فکر کوئ چې تنفسي ستونزې لرئ نو باید له خپل ګمارونکي سره خبرې وکړئ او ژر تر ژره له روغتیایي ډاکټر سره ووینئ.

د کار او ورغتیا د اړتیاوو له مخې (WSH) ، هغه کارکوونکي چې د تنفسي کرسټالي سیلیکا له خطر سره مخ دي باید د خپل روغتیایي مراقبت لپاره پیسې تادیه کړي چې په دې کې د روغتیایي معایناتو او خدماتو لګښت هم شامل دی. روغتیایي مراقبت او معاینات باید د ثبت شوي روغتیایي ډاکټر (RMP) له خوا نظارت شي. RMP هغه ډاکټر ته ویل کیږي چې د شغلي خطرونو او روغتیا د نظارت په برخه کې تخصص لري. د روغتیایي نظارت په هکله د نورو معلوماتو لپاره [WorkSafe website](WorkSafe website) وېب پاڼې ته مراجعه وکړئ

که چېرې د روغتیایي ملاقاتونو او معایناتو د لګښتونو متحمل شوئ، نو باید له خپل ګمارونکي سره خبرې وکړئ ترڅو څرګنده شي چې آیا هغوی باید د WSH د غوښتونو مطابق ستاسو لګښتونه تادیه کړي او که نه.

ستاسو څخه غوښتل کیږي چې ژر تر ژره د کارکوونکو د جبراني مزد لپاره درخواست وکړئ، چیرې چې یو روغتیایي متخصص د سیلیکوسېس تشخیص یا په موقتي ډول تشخیص کړی کوي.

## څنګه غوښتنه وکړو

که په تاسو کې سیلیکوسې تشخیص شوی وي یا د مؤبت سیلیکوسېس لرونکي یاست، تاسوس باید دغه دغه ګامونه تعقیب کړئ ترڅو د کاریګر د مزد غوښتنه ادا کړئ:

1. له خپل تداوي کوونکي طبي ډاکټر څخه د دوړې د ځانګړې ناروغۍ سره د ظرفیت لومړی سرټیفکېټ چې د تشخیص (یا مؤقتي تشخیص) ښودونکی وي ترلاسه کړئ.
2. له دوړې څخه د رامنځ ته شوې ناروغۍ د مزد د غوښتنې فورمه ډکه کړئ او د WPI د تشخیص غوښتنه وکړئ – عمومي قانون (د WorkCover WA په وېب پاڼه کې شتون لري).
3. لاندې اسناد خپل ګمارونکیی ته ورکړئ:
   - د ظرفیت لومړی سرټیفکېټ
   - له دوړې څخه د رامنځ ته شوې ناورغۍ د مزد د غوښتنې ډکه شوې فورمه او د WPI د تشخیص غوَتنه – عمومي قانون.

ګمارونکی یا د ګمارونکي بیمه کوونکی باید ساناد د سیلیکوسېس د مزد له غوښتنې وروسته په اوو ورځو کې د [records@workcover.wa.gov.au](mailto:records@workcover.wa.gov.au) برېښنالیک له لارې WorkCover WA ته واستوي.

همدارنګه تاسو حق لرئ چې د کارکوونکو د جبراني مزد د ترلاسه کولو په پروسه کې قانوني استازی ولرئ، او یا د خپلې ادعا په برخه کې مرسته ترلاسه کړئ.

## د بیمه کوونکي مسؤلیتونه

که چیرې مو تر اوسه د تنفسي متخصص راپور نه وي ترلاسه کړی، نو ستاسو د سیلیکوسیس تشخیص به د لا ارزونې او پراخي بیاکتنې په موخه تنفسي متخصص ته راجع شي. دا مخکې د DDMP له پریکړې څخه اړین دی.

ستاسو بیمه کوونکی به دا کارونه وکړي:

- ستاسو ادعا به ژر تر ژره WorkCover WA ته راجع کړي ترڅو د DDMP د پریکړې لپاره مهالویش تنظیم شي:
- د تنفسي متخصص د هغه راپور لپاره به لګښت تادیه کړي چې د 1 جدول حد اقل غوښتنې پوره کوي (فرق نه کوي چې متخصص د کارکوونکي له خوا انتخاب شوی او که د بیمه کوونکي له خوا)
- د لوړ کیفیت سي ټي سکن او د سږیو د فعالیت د معیاري ارزونې لپاره به لګښتونه تادیه کړي، دا دواړه هم باید د 2 جدول حد اقل غوښتنې پوره کړي
- د تنفسي متخصص د راپور او د لوړ کیفیت سي ټي سکن د پایلې له ترلاسه کولو سره سم به دا معلومات ژر تر ژره د records@workcover.wa.gov.au له لارې WorkCover WA ته راجع کړي لکه له سیلیکا سره د کارکوونکو د مخ کېدو سابقه او یا نور مدارک. که چیرې ستاسو بیمه کوونکي د راپور او/یا سکن او د سږیو د معایناتو لپاره پیسې تادیه کړي، نو هغوی به تاسو ته د دې هر څه کاپي درکړي.

**1 جدول:**

| د تنفسي متخصص په راپور کې دا موارد باید شامل وي: |
|---|
| د کارکوونکي اوسني علایم |
| له تنفسي کرسټالي سیلیکا سره د مخ کېدو سابقه او ماهیت (په کار پورې مرتبط او یا په کار پورې غیر مرتبط) |
| روغتیایي سابقه<br>• اوسنۍ فعالې روغتیایي ستونزې<br>• اوسني او پخواني درمل<br>• د روغتیایي څېړنو سابقه |
| د سګرټ څکولو سابقه |
| تشخیصونه |
| د کار ظرفیت |

**2 جدول:**

| د سکن او معایناتو غوښتنې: |
|---|
| د سینې د لوړ کیفیت سي ټي سکن (پر مخې او پر څټ موقعیتونو کې)<br>• باید له شپږو میاشتو څخه د زیات وخت نه وي<br>• د رادیولوژی د راپور کاپي او ډیسک |
| د سږیو د بشپړ فعالیت د معیاري معاینې غوښتنې:<br>• سپیرومیټري<br>• د سږیو حجم<br>• انتشار<br>• د اکسیجن اشباع<br>• د جریان د مقدار ګرافونه |

## له دوړو څخه له رامنځ ته شوې ناروغۍ وړاندې د طبي پلاوي ملاحظات

د DDMP د اداري د ملاتړي دندې په توګه، WorkCover WA به له DDMP سره اړیکه ونیسي ترڅو معلومه کړي چې ایا د ټاکنې مهالویش لپاره کافي اسناد شتون لري که نه او ممکن اضافي طبي ازموینې، معلومات یا اسناد وغواړي. یوځل چې د غوښتنلیک د ټاکلو لپاره نیټه ټاکل شوې وي، ممکن کارګر اړ وي چې د DDMP لخوا د معاینې لپاره WorkCover WA ته حاضر شي. که چیرې کارګر حاضر نشي، کارګر ممکن د دوی په غیاب کې د ټاکنې غوښتنه وکړي. دا یوازې په محدودو شرایطو کې پلي کیږي.

## پلاوی څه ډول پریکړې کوي؟

DDMP د طبي اسنادو بیا کتنه کوي او د کار کوونکي لپاره له دوړو څخه د رامنځ ته شوې ناروغۍ اړوند د مزد د غوښتنې ارزونه کوي. DDMP د لاندې پوښتنو په اړه وضاحت کوي:

- آیا کارګر (د سیلیکوسیس په ګډون) له دوړو څخه له رامنځ ته شوې تجویز شوې ناروغۍ څخه ځوریږي یا ځوریدو؟
- آیا کارګر د دوړو ناروغۍ له امله د کار کولو توان نلري یا یې نه لرلو، او که داسې وي، د کارګر د کار کولو توان څومره دی یا و؟
- د دوړو ناروغۍ له امله د دایمي ټول شخص د معیوبیت درجه څومره ارزول شوې ده؟

DDMP ممکن د تشخصي کولو دمخه اضافي طبي ازموینې، معلومات یا اسناد وغواړي. DDMP باید د ټولو اړینو معلوماتو او اسنادو ترلاسه کولو وروسته په 28 ورځو کې دننه ټاکنه وکړي او د ټاکنې له ترسره کیدو څخه په اوو ورځو کې دننه د ټاکنې یوه کاپي کارګر، د کارګر کارګمارونکي او د کارګمارونکي بیمه کوونکي ته ورکړي.



## اضافي مرستې ته اړتیا لرئ؟

د WorkCover WA د مشورې او مرستې خدمت ته په **1300 794 744** (دوشنبه تر جمعې، د سهار 8:30 څخه تر 4:30 پورې) زنګ ووهئ.

د **workcover.wa.gov.au** څخه لیدنه وکړئ.